

# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه
هفته نامه آبادی

ګڼه: ۴۲ | مسلسل نمبر: ۸۴ | شنبه، د شعبان المعظم ۳مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال


## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کندهار شوراندام سیمنټو فابریکې له کاري بهیر څخه لیدنه وکړه



۲ صفحه

## د برېښنا تولید یوشمېر پروژو ته د تایید نظر ورکړل شو



۲ مه صفحه

## د سوداګرۍ په پرمختګ کې د ترانزیتي او تجارتي لارو اهمیت



۴ مه صفحه



## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبد الغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ کال د سلواغې میاشتې په نهمه نېټه د کندهار شوراندام سیمنټو فابریکې له کاري بهیر څخه لیدنه وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه فابریکې له ترسره شوو کارونو څخه خوښي څرګنده کړه او اړوندو مسوولینو ته یې د کار د غوره کیفیت او په ټاکلي وخت د بشپړېدو په هکله لازمي لارښوونې وکړې.

د کندهار د شوراندام سیمنټو فابریکې د جوړولو چارې د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري خصوصي شرکت ته سپارل شوې او شاوخوا ۸ میلیارده افغانۍ لګښت پرې راځي. یاده فابریکه به له فعالیت وروسته په لومړیو کې په ورځني ډول ۱۵۰۰ ټنه سیمنټ تولید کړي او په راتلونکي کې به یې د تولید کچه ۵۰۰۰ ټنو ته ورسېږي. افغانستان د سیمنټو د تولید له پاره په زیاته اندازه معدني مواد لري، خو لا هم د خپلې اړتیا ور زیاته اندازه سیمنټ د سیمې او ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي. کوم سیمنټ چې له ګاونډیو هېوادونو څخه واردېږي، په کال کې په میلیونونو ډالر ګاونډیو هېوادونو ته د داسې جنس په بدل کې ورکول کېږي چې په هېواد کې یې د تولید امکانات زیات دي. د سیمنټو ارزښت او په افغانستان کې د دې مهمې مادې د تولید له پاره د معدني موادو شتون ته په کتو اسلامي امارت هڅه کوي چې په دې برخه کې هېواد پر ځان بسیا کړي. په همدې موخه یې په هېواد کې د سیمنټو فابریکو بیارغونې او د نویو فابریکو جوړولو ته مخه کړې ده.

تر دې مهاله د د بغلان د غوري او پروان د جبل السراج سیمنټو دوې سترې تولیدي فابریکې فعالې شوې دي. د غوري سیمنټو فابریکې تولید په ۲۴ ساعتونو کې ۶۰۰ ټنو ته رسېږي. د دې فابریکې مسوولینو ویلي، هڅه کوي دغه کچه په ۲۴ ساعتونو کې ۱۴۰۰ ټنو ته لوړه کړي. دې کچې ته په رسېدو به د سیمنټو له پلوه د هېواد ۱۴ سلنه اړتیا پوره شي. د دې ترڅنګ د پروان ولایت د جبل السراج د سیمنټو تولیدي فابریکه له ۲۰ کلن ځنډ وروسته بیرته فعاله شوه. د سیمنټو دا تولیدي فابریکه اوسمهال په ۲۴ ساعتونو کې ۱۰۰ ټنه سیمنټ تولیدوي. د ۲۰۲۳ میلادي کال د اکتوبر په ۱۲مه نېټه د ۲۲۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د قطر او افغاني شرکت سره د جبل السراج د سیمنټو فابریکې قرارداد لاسلیک شو. د دې قرارداد له مخې به د جبل السراج سیمنټو فابریکه په کلني ډول د یو نیم میلیونه ټنه سیمنټو د تولید ظرفیت پیدا کړي.

د کندهار شوراندام سیمنټو فابریکه یوه له هغو فابریکو څخه ده چې له سره جوړېږي. د دې فابریکې په جوړېدو او فعالیدو سره به د سیمنټو د تولید کچه نوره هم لوړه شي او هېواد ته به د واردېدونکو سیمنټو کچه راټیټه شي. په دې سره به له یوه لوري د افغانستان د اړتیا ور سیمنټ په کور د ننه تولید شي او له بل لوري به یوه زیاته اندازه پیسې سپما او په نورو برخو کې به ولګول شي.

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د کندهار شورانډام سيمنټو فابريکې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ کال د سلواغې مياشتې په نهمه نېټه د کندهار شورانډام سيمنټو فابريکې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دغه فابريکې له ترسره شوو کارونو خوښي څرګنده کړه او اړوندو مسوولينو ته يې د کار د غوره کيفيت او په ټاکلي وخت د بشـــپړېدو په هکله لازمې لارښوونې وکړې. د دغه فابريکې د جوړولو چارې د کانونو او پټروليم وزارت له لوري خصوصي شرکت ته سپارل شوې چې اوس يې کارونه په چټکۍ سره روان دي او شاوخوا ۸ ميلیارده افغانۍ لګښت پرې راځي.

ياده فابريکه به په لومړۍ مرحله کې په ورځني ډول ۱۵۰۰ ټنه ســـيمنټ توليدوي او په راتلونکي کې به يـــې د توليد کچـــه ۵۰۰۰ ټنو ته ورســـېږي. د دغه فابريکې په جوړېدو سره به د سيمنټو په وارداتو کې د پام وړ کموالی راشي او ورسره به شـــاوخوا ۵۰۰۰ هېوادوالو ته په مســـتقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه هم برابره شي.

د يادونې وړ ده چې اسلامي امارت څه موده وړاندې د جوزجـــان د يتيم تـــاق او د لوګر ســـيمنټو فابريکو د جوړولو قراردادونه هم له افغان او بهرنيو شرکتونو سره لاسليک کړل.



# د برېښنا توليد يوشمېر پروژو ته د تاييد نظر ورکړل شو



د اقتصادي کمېســـيون د تخنيکـــي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ کال د ســـلواغې مياشـــتې په اتمـــه نېټه پـــه مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شـــوه. د تخنيکي کمېټې دې غونډې ته د نورســـتان ولايت په منډول ولســـوالۍ کـــې پر طبيعـــي حوض او د همدې ولايت د نورګرام ولســـوالۍ پـــه کله‌ګوش ســـيمه کې د برېښـــنا بندونو د جوړولـــو په موخه د امکان ســـنجۍ مطالعاتو ترسره کولو او همدا راز د بغلان ولايت د مرکـــز پلخمرۍ اړوند (۱۳) کليو ته د برېښـــنا د ورکړې پروژې د بحـــث لپاره وړاندې شـــوې. له هراړخيز بحث وروســـته يادو پروژو ته د تاييد نظر ورکړل شـــو او د نهايـــي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شوې.

# اخبار اقتصادی هفته

## وزارت انرژی و آب: زمینه‌های سرمایه‌گذاری در انرژی‌های تجدیدپذیر فراهم شده



همزمان با روز جهانی "انرژی پاک" انتونیو گوترش دبیرکل سازمان ملل متحد، ابراز امیدواری کرده که انرژی‌های تجدیدپذیر به منبع اصلی تولید برق در جهان تبدیل شوند. او تاکید کرده است که این تحول می‌تواند هزینه‌های تولید انرژی را کاهش دهد و به حفظ محیط زیست کمک کند. همزمان با این، وزارت انرژی و آب نیز از تلاش‌ها برای توسعه تولید انرژی از منابع آب، باد و خورشید خبر می‌دهد. مطیع‌الله عابد سخن‌گوی این وزارت تاکید می‌کند که فرصت های سرمایه‌گذاری در بخش انرژی‌های تجدیدپذیر در افغانستان فراهم شده و تاکنون میلیون‌ها دالر در این زمینه جذب شده است.

## افزایش صادرات و واردات از طریق راه‌آهن هرات-خواف

مسوولان محلی هرات از افزایش چشمگیر واردات و صادرات از طریق راه‌آهن هرات-خواف خبر می‌دهند. بر اساس آمارها، در یک ماه گذشته، بیش از ده هزار تُن کالاهای وارداتی و صادراتی از این مسیر بین افغانستان و ایران انتقال یافته است. احمدالله متقی رئیس اطلاعات و فرهنگ هرات گفت: «فاز اول پروژه مهم راه آهن هرات-خواف تکمیل شده است و در ماه جدی، بیش از ده هزار تُن انتقالات از طریق این راه آهن صورت گرفته است.» انتقال کالاهای تجاری از طریق راه‌آهن هرات-خواف میان افغانستان، ایران و برخی کشورهای منطقه، در رشد تجارت بسیار مهم ارزیابی می شود. مسوولان محلی هرات همچنین می‌گویند که در سال نو خورشیدی، انتقال مسافران میان ایران و افغانستان از طریق راه‌آهن هرات-خواف نیز آغاز خواهد شد. راه‌آهن هرات-خواف، افغانستان را از طریق ایران به بازارهای ترکیه و اروپا متصل می‌کند. تکمیل مراحل نهایی ساخت این مسیر که تا شهرک صنعتی هرات امتداد دارد، همچنان ادامه دارد.

## ۷۶۳ میلیون دالر؛ حجم دادوستد تجاری افغانستان و هند در ده ماه

در ده ماه نخست سال جاری خورشیدی، به ارزش ۷۶۳ میلیون دالر میان افغانستان و هند دادوستد انجام شده است. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت، می گوید که از این مقدار، ۵۴۱ میلیون دالر را صادرات تشکیل می‌دهد. آقای جواد در این باره گفت: «دادوستد میان افغانستان و هند در ده ماه نخست سال ۱۴۰۳ هجری خورشیدی به ارزش ۷۶۳ میلیون دالر بوده است که از این میزان، ۵۴۱ میلیون دالر آن صادرات و ۲۲۲ میلیون دالر آن واردات را تشکیل می‌دهد. اقلام عمده‌ی صادراتی افغانستان به هند شامل انجیر خشک، هنگ، زعفران، کشمش، زیره و بادام می‌باشد.» هند یکی از کشورهایی است که افغانستان بیشترین دادوستد را با آن دارد. این دادوستد از طریق گذرگاه‌هایی مانند کراچی، چابهار، واگه و بندرعباس انجام می‌شود.

## نشست سه‌جانبه برای آغاز کاری عملی پروژه تاپ ۵۰۰ برگزار شد

ضیا احمد تکل رئیس روابط عامه وزارت خارجه از برگزاری نخستین نشست سه‌جانبه با حضور نمایندگان افغانستان، ترکمنستان و شرکت چالک هولدنگ ترکیه به منظور آغاز کار عملی پروژه تاپ ۵۰۰ خبر داد. آقای تکل در خبرنامه ای افزوده که پروژه تاپ - ۵۰۰ برق ترکمنستان را با ولتاژ بلند از طریق ولایت‌های هرات، فراه، هلمند و قندهار به پاکستان انتقال می‌دهد که علاوه بر تأمین نیازهای داخلی، افغانستان سالانه عواید قابل توجهی از ترانزیت برق دریافت خواهد کرد.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی




# د سوداګرۍ په پرمختګ کې د ټرانزیټي او تجارتي لارو اهمیت

فضل ولي شیراني

## سریزه

افغانستان په آسیا کې له منګولیا، نیپال، د لائوس جمهوریت، بوتان، قزاقستان، قرغیزستان، ترکمنستان، تاجیکستان او ازبیکستان سره یوځای له لسو په وچه کې راګیر هېوادونو څخه یو دی. افغانستان په وچه کې د ایسار هېواد په توګه د سوداګرۍ او ترانزیټ له پاره لارو او سړکونو ته اړتیا لري، څو ددې لارو پر مټ وکولای شي، اوبو ته ځان ورسوي او خپله سوداګري پراخه کړي. د هېواد ډېری صادراتي توکي وچې او تازه مېوې، غالۍ، د څارویو پوستکي او طبي بوټي دي، نو ددې له پاره اړینه ده چې سوداګریزې او ترانزیتي لارې ولري او خپل صادرات د نړۍ تر بازارونو پورې ورسوي. د سوداګریزو او ترانزیتي لارو په موندلو او رغولو سره به د افغانستان حکومت وکولای شي چې نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته او ورسره به نړیوال پانګوال وهڅوي، ترڅو په بېلا بېلو په ځانګړي ډول د کانونو په برخه کې پانګونه وکړي. له دې سره به افغانستان د اقتصاد یوه نوي پړاو ته ورننوځي. دغه راز به له دې لارو څخه د افغانستان لاسي صنایع نړیوالو بازارونو ته لار پیدا کړي چې له مخې به یې لاسي صنایع وده وکړي او په راتلونکې کې به دا د عوایدو یوه بله ستره سرچینه وګرځي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي، هېواد د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسوي او هم له اقتصادي پلوه افغانستان پر ځان بسیا کړي. موږ په دې لیکنه کې د افغانستان سوداګریزو او ترانزیتي لارو، په سوداګرۍ کې د ترانزیتي او سوداګریزو لارو اهمیت او په دې برخه کې د اسلامي امارت هڅو ته اشاره کړې ده.

## د افغانستان ترانزیتي او تجارتي لارې

دا یو ښکاره حقیقت دی چې لارې او سړکونو د هېوادونو په اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ژوند کې مهم رول لوبولی دی. په هر وخت او هرځای کې یې د خلکو اړتیاوې او ستونزې هوارې کړې دي. سوداګریزو او ترانزیتي لارو د توکو او انسانانو د لیږد له پاره زمینه برابره کړې ده. لکه څنګه چې د انسان په بدن کې د وینې رګونه مهم رول لري، همداسې په یوه هېواد کې سوداګریزې او ترانزیتي لارې اهمیت او ارزښت لري. په افغانستان کې دننه سوداګریزې او ترانزیتي لویې لارې شته چې کولای شي افغانستان د اسیا په څلور لارې بدل کړي. له دې لارو څخه یوه هم د کابل-کندهار لویه لار ده. د کابل–کندهار لویه لاره ۴۸۳ کیلومتره اوږدوالی لري چې د افغانستان دوه تر ټولو لوی ښارونه کابل او کندهار له یو بل سره نښلوي. دا لویه لار د افغانستان د ملي تجارتي سیستم یوه مهمه برخه ده. د کابل او کندهار تر منځ غځېدلې دا لویه لاره ټوله هواره ده او له غرونو څخه نه تیرېږي. د افغانستان شاوخوا ۳۵ سلنه وګړي د کابل او کندهار تر منځ ددې لویې لارې په شاوخوا کې ژوند کوي. بله د کندهار – هرات لویه لار ده. دغه لویه لار چې اوږدوالی یې ۵۵۷ کیلومترو ته رسېږي، په افغانستان کې د کندهار او هرات ښارونه یو له بل سره نښلوي. دا لویه لار د سړک د یوې لویې شبکې برخه ده، چې "حلقوي سړک" نومېږي او په لومړي ځل په ۱۹۶۰ لسیزه کې جوړه شوې وه. د کندهار-هرات لویه لاره دوې برخې لري چې لومړۍ برخه یې له کندهار څخه تر ګرشک او له هغه ځایه بیا تر هرات پورې رسېږي. دغه راز د کابل – جلال اباد لویه لاره د افغانستان له لویو، اقتصادي او مهمو لارو څخه ده چې له مرکز کابل څخه پیلېږي، د کابل سروبي ، سروبي تنګي، لغمان تنګي او لغمان ولایت څخه په تیرېدو د ننګرهار ولایت مرکز جلال اباد ښار او په پای کې د تورخم بندر ته رسېږي. دغه لویه لار شاوخوا ۱۵۰ کیلومتره اوږدوالی لري. د سالنګ کوتل یا لویه لاره یوه غرنۍ لاره ده چې شمالي افغانستان له پلازمېنې کابل، سویلي افغانستان او پاکستان سره نښلوي. سالنګ تونل دا مهال په سویل کې چاریکار او کابل له مزارشریف او کندوز



سره نښلوي. دغه راز د هرات- غور سړک دی چې اوږدوالی يې ۳۸۰کیلومترو ته رسېږي. د هرات – غور سړک د افغانستان له مهمو ملي پروژو څخه ده، چې هرات، غور، باميان، دايکندي او ميدان وردګ ولايتونه له کابل سره نښلوي، چې د سوداګرۍ د پراختيا او سيمه ييز ټرانزيټ په برخه کې به مهم رول ولوبوي. ددې ترڅنګ په هېواد کې ځينې نورې لارې او سړکونه هم شته چې د سوداګرۍ او ټرانزيټ په برخه کې تر يوه حده رول لري. ددې سړکونو له جملې څخه کولای شو د کندهار- ارزګان، د کابل- غزني دويم لين سړک، د کابل- جلال اباد دوهم لين سړک او داسې نور.

د افغانستان په دننه کې د سوداګريزو او ترانزيټي لويو لارو ترڅنګ يو شمېر نورې هغه لرغونې لارې هم شته چې يو وخت يې افغانستان د اسيا په زړه بدل کړی و. يوه له دې لارو څخه د وريښمو او بله د لاجوردو لويه لار ده. د وريښمو لار ختيځه، لويديځه او سويلي اسيا، د افريقا شمال له ختيځې اروپا او د لاجوردو لار بيا افغانستان له اروپا، منځنۍ ختيځ، افريقا، بالکان او ترکيې سره نښلوي، دغه دواړې لويې لارې د افغانستان د سوداګرۍ لپاره تر ټولو لنډې، ډاډمنې، ارزانه او خوندي لارې دي. د ځمکنيو لويو لارو ترڅنګ افغانستان د ريل پټلۍ ځينې فعالې کرښې هم لري. خواف- هرات ريل پټلۍ، د سرحد آباد – تورغنډۍ ريل پټلۍ، د ترمز – مزارشريف د ريل پټلۍ دي. افغان- ټرانس ريل پټلۍ او د ځينو نورو ريل پټليو د جوړېدو له پاره طرحې او پلانونه چمتو شوي، چې په راتلونکي کې به يې د جوړېدو عملي چارې پيل شي. له هغې جملې د هرات- کندهار- سپين بولدک ريل پټلۍ يادولی شو. دا او نورې سوداګريزې او ترانزيټي لويې لارې کولای شي افغانستان لومړی په خپلو، بيا د سيمې له هېوادونو او په پای کې له نړۍ سره ونښلوي. دا چې د سوداګريزو او ترانزيټي لويو لارو اهميت څه دی، لاندې يې په ګډه لولو.

## په سوداګرۍ کې د ترانزيټي او تجارتي لويو لارو اهميت

د يوه هېواد د سوداګرۍ په پرمختګ کې سوداګريزې او ترانزيټي لويې لارې زيات اهميت لري. دا لارې هغه څه دي چې کولای شي افغانستان له اسيا، اروپا او افريقا سره ونښلوي او د دغو لويو وچو د هېوادونو اقتصاد به وغوړوي او ګټې به يې سره شريکې کړي. په وچه کې ايسار افغانستان د اسيا او اروپا په ځمکني مرکز کې پروت دی. سوداګريزې او ترانزيټي لويې لارې به د افغانستان له پاره له ځان سره زياتې اقتصادي ګټې ولري او افغانستان به د خپل جغرافيايي موقعيت په درلودلو سره د سيمې پر څلور لارې بدل شي. ددې لارو په رغولو سره به د افغانستان حکومت وکولای شي چې نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته او ورسره به نړيوال پانګوال وهڅوي، ترڅو په بېلا بېلو برخو په ځانګړې ډول د کانونو په برخه کې پانګونه وکړي. له دې سره به افغانستان د اقتصاد يوه نوي پړاو ته ورننوځي. بله دا چې افغانستان يو کرنيز هېواد دی او زياتره خلک يې په زراعت او کرنه بوخت دي، ددې لارو په جوړېدو به د افغانستان د کرنيزو محصولاتو مارکيټ له نړيوالو مارکيټونو سره ونښلول شي. دا بيا دوې ګټې لري، له يوه لوري به سوداګري پراختيا ومومي او له بل لوري به د افغان بزګرانو اقتصادي حالت ښه شي. د حکومت له پاره به ددې زمينه برابره شي چې د ماليانو په اخيستلو سره د افغانستان د حکومت د عوايدو کچه لوړه کړي. نو که ټولې ځمکنۍ لويې لارې، هوايي دهليزونه او ريل پټلۍ جوړ شي، زموږ عوايد به څو چنده او سوداګري به مو پوره وده او پرمختګ وکړي. دغه راز به له دې لارو څخه د افغانستان لاسي صنايع نړيوالو بازارونو ته لار پيدا کړي چې له مخې به يې لاسي صنايع وده وکړي او په راتلونکي کې به دا د عوايدو يوه بله ستره سرچينه وګرځي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي، هېواد د پرمختګ لوړو پوړيو ته ورسوي او هم له اقتصادي پلوه افغانستان پر ځان بسيا او د يوه خپلواک اقتصاد څښتن شي. دا چې اسلامي امارت په دې برخه کې څه کړي دي، دلته لنده کتنه ورته کوو.

## د ترانزيټي او تجارتي لويو لارو په جوړولو کې د اسلامي امارت هڅې

حکومتونه او نظامونه د ملتونو د هوسايني، ثبات او ښيګڼې لپاره رامنځته کېږي. اسلامي امارت په دې برخه کې پراخې هڅې کړي، څو خلکو ته د هوسا ژوند زمينه برابره او په همدې موخه يې د هېواد د پرمختګ له پاره ګڼ شمېر بنسټيزې پروژې پيل کړې دي. د هېواد رغونې او پرمختګ ته د اسلامي امارت ژمنتيا دعوه نه، بلکې هغه روښانه او څرګند حقيقت دی، چې هره ورځ يې په سترګو وينو. د هېواد په هر ګوټ کې داسې رغنيز کارونه روان دي، چې د افغانستان په معاصر تاريخ کې بې ساري ګڼل کېږي. د نورو پرمختيايي کارونو ترڅنګ د هېواد د سوداګريزو او ترانزيټي لويو لارو د بيارغونې په برخه کې عملا کار روان دی. له دې مهمو سوداګريزو او ترانزيټي لارو څخه يوه هم د کابل- کندهار لويه لار ده. د کابل- کندهار لويې لارې د بيارغونې چارې د اسلامي امارت له لوري په ۱۴۰۲ لمريز کال کې پيل شوې. دغه لويه لار د افغانستان اسلامي امارت په مالي ملاتړ د خصوصي سکتور له لوري په ۵ برخو: (ارغندی چوک – دوراني بازار، د غزني مرکز – پنبې کنده، پنبې کنده_ قلات، قلات - شهر صفا او شهر صفا – مانجه) کې په اساسي ډول رغول کېږي. دا مهال ددې لويې لارې د پنځمې برخې رغنيزې چارې بشپړې او ګټې اخستنې ته سپارل شوې ده. د نورو برخو رغنيزې چارې يې روانې دي او هڅه داده چې ژر پای ته ورسېږي. د همدې لويې لارې په مسير کې له کابل څخه تر غزني پورې د دوهم لين سړک د جوړولو چارې بيا په ۱۴۰۳ لمريز کال کې پيل شوې. ددې ترڅنګ د سالنګونو د ۸۰ کيلومتره سړک د اساسي بيارغونې کار په دريو لاټونو کې پيل شوی او چارې يې په چټکۍ سره روانې دي، چې د هېواد شمال، مرکز او جنوب ترمنځ د ترافيکي بهير د ښه کولو ترڅنګ د سوداګرۍ او ترانزيټ په پراختيا کې هم مهم رول لري. په ۱۴۰۳ کال کې چې د سړک د برخې يوه بله مهمه پروژه پرانيستل شوه هغه د کابل- جلال اباد د دوهم لين سړک جوړول و. دغه پروژه د ۱۴۰۳ لمريز کال د عقرب مياشتې په پنځمه نېټه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانيستل شوه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو ته وويل، د کابل – جلال اباد د لويې لارې دوهم لين سړک د هېواد د داخلي اتصال او ځمکني ترانسپورټ په برخه کې هغه مهمه پروژه ده چې دوه ستر تجارتي او ستراتيژيک ولايتونه کابل او ننګرهار په کمه فاصله يو له بل سره نښلوي. د کابل – جلال اباد لويې لارې د دوهم لين سړک په جوړېدو سره به د دې لارې پر لومړي لين ګڼه ګونه

راکمه او د ترافیکي پېښو کچه به راټیټه شي. همدارنګه به د تګ راتګ اســانتیاوې برابرې، د سوداګریزو توکو د لېږد بهیر به ګړندی، خوندي او کم لګښته شي او همدا راز به د لارې په اوږدو کې کوچني او منځني کاروبارونه وغوړېږي. اسلامي امارت د سترو سوداګریزو او ترانزیټي لارو د جوړولو او رغولــو سربېره د ولایتونو او د هېواد د حلقوي ســړک د جوړولــو په برخه کې هــم ګامونه پورته کــړي دي. ددې سړکونو ښې بېلګې د هرات-غور او کندهار- ارزګان سړکونه دي. ددې ســړکونو په جوړېدو او رغېدو سره به د ولایتونو ترمنځ د اتصال او اقتصادي ودې لپاره لار هواره او د سیمې د اوســېدونکو لپاره به د تګ راتګ په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي. د سوداګریزو او ترانزیټي ځمکنیو لارو په ډله کې د اوســپنې پټلۍ هم راځي. دا مهال افغانستان د ځینو فعالو اوســپنې پټلیو له لارې خپله سوداګري ترسره کوي. خواف- هرات ریل پټلۍ، د سرحد آباد – تورغنډۍ ریل پټلۍ او د ترمز – مزارشریف د ریل پټلۍ فعالې او په ورځني ډول پرې انتقالات ترسره کېږي. افغان- ټرانس ریل پټلۍ چې لا یې عملي چارې نه دي پیل شوې، د چارو د پیل له پاره یې هلې ځلې رواني دي. ددې ریل پټلۍ چې د ازبیکستان له ترمذه د افغانســتان مزار شریف، لوګر او له هغه ځایه پکتیا کې د خرلاڅۍ له لارې پر ډیورنډ کرښــه کورمې ته غځول کېږي او بیا به د پاکستان د اورګاډو له شبکې سره وصل کېږي، په جوړېدو به یې د هېواد په ســوداګرۍ کې زیات پرمختګ رامنځته شي. دغه راز اسلامي امارت د سوداګرۍ د پراختیا له پاره هوایي دهلیزونه هم فعال کړي دي چې ښه بېلګه یې کابل- شانګهای هوایي دهلیز دی. اسلامي امارت پر دې بســنه نه ده کړې، بلکې د ولایتونو او د ولایتونو له مرکزونو څخه ولســوالیو ته د غځېدلو ســړکونو د رغونې او جوړونې چارې یې هم پیل کړې دي.

## پایله

د پیاوړي اقتصاد درلودو لپاره پر نورو ســکټورونو سربېره یو هم د سوداګرۍ او ترانزیټ ســکټور دی. د سوداګرۍ او ترانزیټ ســکټور د ودې او پراختیا لپــاره مهمه ده چې یو هېواد د ترانسپورټ ټولې شبکې سمندري، هوایي، ځمکنۍ او ریل پټلۍ په ښــه ډول ورغوي او پــه دغه برخه کې له نننۍ عصري سیســتم څخه اســتفاده وکړي. افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو دی چې ازادو اوبو ته لاسرسی نه لري او د هر ډول ترانســپورټ پــر مهال یوازې له هوایي، ځمکنۍ او رېل پټلۍ شــبکو څخه استفاده کوي. ښه خبره داده چې دا برخې په معیاري ډول جوړې شي. اســلامي امــارت په دې برخه کې خپلې هلــې ځلې چټکې کړې او عملي ګامونه یې هم پورته کړي دي. د ځمکنیو سوداګریزو او ترانزیټــي لارو په جوړولو او رغولــو یې پیل کړی دی. ددې لارو پــه جوړېدو سره بــه د هېواد د ســوداګرۍ د پرمختګ ترڅنــګ ترانزیټ هم زیات او لــه دې درکه به افغانستان زیات عواید ترلاسه کړي.



# د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۷۳,۶۰ | ؋۷۳,۸۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۵۳ | ؋۲۵۴ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۳۳ | ؋۱,۳٤ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷٦,۲۷ | ؋۷٦,٤۷ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۷۵ | ؋۰,۷۵ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۵۹ | ؋۸٦۰ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۹۱,۲۲ | ؋۹۱,٤٦ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۹,٦۲ | ؋۱۹,٦۸ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۲۰,۰٤ | ؋۲۰,۰۹ |
| ۱ | چیني ین | ؋۱۰,۲٤ | ؋۱۰,۲۷ |

